**مطبوعاتي اعلامیه**

## د پیسو ټولولو لپاره د حوثیانو شرارت، جاهلیت، فرصت طلبي او حرص

د حوثیانو سیاسي دفتر په دې وروستیو کې د زکات راټولو د اجرایي قانون د ۱۹۹۹ دویمې شمېرې د اصلاح په موخه نوې پرېکړه کړې ده. دوی په یوه عجیب او غریب کار سره په دې برخه کې اسلامي احکامو ته له پاملرنې پرته، په دې لټه کې دي چې له حلالو او حرامو لارو څخه پیسې ډېرې کړي. له پیسو سره د دوی زیاته مینه او په دې برخه کې حرص د دې لامل شو چې دوی د خپلو نومونو پرځای نور نومونه پرې کېږدي> په دې ځای کې په یاد قانون کې د ځینو برخو د توضېح راغلې ده:

ـ غنیمت هغه څه ته ویل کېږي چې له کافرانو څخه د جګړې په ډګر کې نیول کېږي او له هغو سره «في/ خمس» (د غنیمت پنځمه برخه ده چې لاندې حدیث کې واضیح شوې) راځي چې له جګړې پرته له دوی څخه نیول کېږي، لکه څرنګه چې په لاندې ایت کې هم ورته اشاره شوې ده:

**﴿وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُمْ بِاللّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾**

**ژباړه:** «او تاسو ته مالومه وي چې د غنیمت څه مال چې تاسو په لاس راوړی دی، د هغه پنځمه برخه د الله سبحانه وتعالی، د هغه د پیغمبر، د خپلو خپلوانو، د یتیمانو، د مسکینانو او مسافرو لپاره ده. که تاسو پر الله سبحانه وتعالی او پر هغه شي ایمان راوړی وي، چې د فیصلې په ورځ( د دواړو لښکرو د مخامخ کېدو په ورځ) موږ پر خپل بنده نازل کړي وو(نو دا برخه په خوښۍ سره ادا کړئ) الله سبحانه وتعالی په هرڅه سره قادر دی.» [الانفال: ۴۱]

دغه راز الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاء مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾**

**ژباړه:** «الله سبحانه وتعالی چې هر څه (مالونه) د دغو کلیو د خلکو څخه د خپل پیغمبر خواته وګرځوي، هغه د الله سبحانه وتعالی او پیغمبر، خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرو لپاره دي ترڅو چې هغه یوازې ستاسې د

بډایانو ترمنځ لاس په لاس نه شي. څه چې پیغمبر تاسې ته درکوي، هغه واخلئ او له څه شي څخه چې تاسې منع کوي، له هغه څخه منعه شئ. له الله سبحانه وتعالی څخه ووېرېږئ، هغه سخت سزا ورکوونکی دی.» [الحشر: ۷]

له همدې کبله غنیمت د ټولو انسانانو پیسې نه دي! د جنګ په غنیمت او د کافر په فې (د غنیمت پنځمه برخه ده) کې د محمد د کورنۍ حق دی.

- د خصوصي او عامه ملکیت ترمنځ توپیر نه کول. عامه ملکیت هغه سیمه او ځای دی، چې ټولنه کولی شي د هغو په لټه کې بهر راووځي، لکه د مالګې هغه غر چې د الله رسول د مالګې غر د ابیاد بن حمال له خصوصي ملکیت څخه را ویست او پر عامه ملکیت یې بدل کړ. په دې کې هغه معدني توکي هم راځي چې د شمېرلو وړ نه وي، لکه سره زر، نقره او نور معدني مواد هم پکې راځي چې د نفتو او ګازو په څېر د استخراج وړ نه وي. خو خلک هغه معدني مواد هم استخراج کولی شي چې محدود دي، په دې شرط چې پنځمه برخه به یې بیت المال ته ورکوي، نه مرکزي بانک ته! خو پر ډبرو، اوبو، ګنیس، مرمر ډبرو، عقیقو، زمردو، فیروزې او ټول هغه نور چې نورو معدني مواد ولري، پر هغو باندې پنځمه برخه نشته، دغه راز په هره اندازه چې زیات هم وي، زکات یې نه ورکول کېږي، ځکه چې زکات د فردي عبادي عمل دی.

- نو له همدې کبله د بني هاشم مسئله مطرح کېږي، ځکه چې د قانون د زکات قانون دی او زکات بني هاشمو ته روا نه دی.

**"لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِآلِ مُحَمَّدٍ ، إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ"**

**ژباړه:** محمد کورنۍ ته روا نه ده چې صدقه قبوله کړي، ځکه چې دوی د خلکو ناخالص دي. دغه راز وايي: «**أَنَّا لَا تَحِلُّ لَنَا الصَّدَقَةُ**» ژباړه: «د دوی لپاره صدقه جایزه نه ده» (مسلم).

حسن بن علي د صدقې یوه خرما راواخسیته او خولې ته یې واچوله، له هغه وروسته د الله سبحانه وتعالی رسول وویل: «**كِخْ كِخْ ، ارْمِ بِهَا ، أَمَا عَلِمْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ**» ژباړه: هغه له خولې لرې کړه، لرې کړه، وغورځوه، ایا ته نه پوهېږې چې موږ صدقه نه خورو( متفق علیه).

ـ د قران او سنت هېڅ داسې شرعي متن نشته چې په هغه کې د له سیند او سون توکو او غارونو څخه پر راایستل شویو شیانو دې د زکات اخیستو اجازه پکې راغلې وي. په بدل کې یې د ریکاز له پخوانیو موندل شوو خزانو څخه پنځمه برخه بیت المال ته ورکول کېږي او او پاتې څلور برخې د هغه چا کېږي، چې خزانه یې موندلې وي. دوی داسې ځوابونه وایي چې له شرعیت سره هېڅ سمون نه خوري.

پوښتنه دا ده چې حوثیان چې د اسلام چیغې وهي، نو دوی اوس اسلام چېرې یووړ؟ یا دا چې اسلام د دوی لپار د پیسو پیدا کول دي؟ اوس دا په ډاګه شوې چې حوثیانو په تېرو پنځو کلونو کې دوی له خلکو څخه د پنځم کس په پار کوم څه پټ کړي دي او دوی اوس هم دې ژمن دي چې هغه له خپلمنځي توافق سره سم ترلاسه کړي، چې دا ټول څه بیا له پیسو سره د دوی حرص، مینه او فرصت طلبي په ډاګه کوي. دوی ځانونه داسې ښیي چې ګواکې د مخکنیو قومونو له ګواښونو او اخطارونو څخه نه دي خبر. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**(أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ)**

**ژباړه:** «نو ایا تاسو د کتاب پر یوه برخه ایمان راوړی او پر بله یې کافر کېږئ؟» [البقره: ۸۵]

د ژوند په ټولو برخو کې د اسلام انقلابي او پراخ پلي کېدل هغه مهال شوني دي چې د نبوت پر منهج دویم راشده خلافت تاسیس شي چې حزب التحریر یې د تاسیس لپاره د یمن مسلمان او عاقل خلک رابولي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: ((... **ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ**))

**ژباړه:** بیا به د نبوت پر منهج خلافت تاسیس شي.

**د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

**ولایه- لبنان**

**۱۴۴۱ هـ . ق کال، د شوال ۲٦ مه**

**۲۰۲۰ م کال، د جون ۱۷ مه**